د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

# لوګر Logar

میاشتنۍ خپرونه

د تاسیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

شنبه د۱۳۹۹ کال دلیندۍ میاشتې لومړۍ، د ۲۰۲۰ عیسوي کال د نومبر یویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۱۷) لومړی کال، اومه ګڼه

**نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:**

** څوک چې دعلم حاصلولوپه غرض دکور څخه ووځي، تر بیرته راګرځیدلو پورې دپاک خدای(ج) په لارکې ددې تګ او راتګ یې ټول په ښېګڼو کې شمیرل کیږي.**

## سرلیکنه ...

## دحضرت محمد(ص) د نېکمرغه میلاد په ویاړ؛

**د ربیع الاول دولسمه داسلام دسترلارښودحضرت محمد (ص) د زوکړې له ورځې سره برابره ده. دغه نېکمرغه ورځ هر کال په ټوله اسلامي نړۍ او په ځانګړې توګه افغانستان کې د ختمونو په ترسره کولو سره لمانځل کیږي . دبشریت ژغورنکي او داسلام سترلارښودحضرت محمد(ص) په ۵۷۱ زیږدیز کال د دوشنبې په ورځ د عبدالله بن عبدالمطلب په کور کې وزیږیدل .**

**حضرت محمد مصطفی (ص) ته څښتن تعالی له بدمرغیو، د ناپوهیو له تیارو د انسان د ژغورلو؛ د اجتماعي عدالت او د انسان د روحي آرامتیا د تامین او د بشر د اخلاقي روزنې ستر رسالت ورسپارلی ؤ.**

**آنحضرت (ص) دارسالت په کامل امانت او برې سرته ورساوه؛ د دې رسالت د پوره کیدو په لار کې یې هر راز کړاونه او ستونزې په خورا حوصله مندۍ او زغم سره وګاللې او بشریت یې د اسلام د مقدس دین په انوارو منورکړ.**

**له بعثت نه وړاندې انساني ارزښت خپل مفهوم له لاسه ورکړی ؤ، دانسان هسکه غاړه به کاږو،بوږو،لوټو اولړګیو ته ټیټېدل . انسان به دځارویو په څیر دبتانو په دربارکې حلالیدل اوانسان به ژوندي په خاوره خښیدل.**

**حضرت محمد(ص)هماغسې دانسانیت په اړه دنور د غره په سمڅه کې ناست ؤ، چې د سپیده داغ په مهال ورته دانسانانو د څښتن رب العلمین له خوا دخلاصون پرښته راغله اوهغه ته یې دانسانیت دنجات اولارښوونې ډیوه په لاس کې ورکړه او ورته ویې ویل: ((دهغه پالوونکي په نامه لوستل پیل کړه، چې داهرڅه یې پیداکړي، انسان یې له یوې ټوټې وینې پیداکړی، ولوله ستاپالوونکی ډېرمهربانه اوډېرقدرمن دی، هغه ذات دی، چې په قلم سره یې ښوونه وکړه اوانسان ته یې هغه څه ورزده کړل، چې هغه پرې نه پوهیده.)) نوپه دې توګه حضرت محمد(ص)دکایناتودخالق اومالک له لوري دانسانانودهدایت اولارښوونې لپاره وګمارل شواوپه پیغمبرۍ مبعوث شو.**

**اسلامي علماءاو د نړۍ ټول اسلام پوهان په دې عقیده دي، چې د نبي کریم (ص) ویاړلی شخصیت د بهترینو صفاتو او عالي خصلتونو څښتن ؤ او د بشریت د لارښوونې په لاره کې یې بې ساري هڅې، ارشادات، خبرې او نظریات یې ستر ارزښت لري .**

**حضرت محمد مصطفی(ص) د ښو اخلاقو درلودونکی ؤ، تل به یې خلکو ته درناوی کاوه، پر ماشومانو باندې ډېر زیات مهربان ؤ، له ستونزو او کړاونو څخه یې وېره نه درلوده، هېڅکله یې هم چاسره په کبر او غرور خبرې او رفتار نه کاؤ، نظافت او پاکوالي ته یې خورا زیات اهمیت ورکول او تل به پاک او خوشبویه ګرځېدل، علم سره یې زیاته مینه وه او خلک به یې تل د علم د زده کولو لپاره هڅول ښه امانتدار ؤ او امانت کې به یې خیانت نه کول. د درواغو او چل نه به یې پرهېز کول او د پیغمبر(ص) همدا ښه اخلاق د دې سبب شول، چې د اسلام دین پراختیا وموندل او ډیرو خلکو د اسلام دین ته مخه کړه او مسلمانان شول .**

**حضرت محمد(ص) په پنځه ویشت کلنۍ کې له بي بي خدیجې سره واده وکړ او په څلوېښت کلنۍ کې د لوی او سپیڅلي خدای(ج) له لوري په پیغمبرۍ مبعوث شو او د پیغمبرۍ په ۲۳ کلنه دوره کې قران عظیم الشان پرې نازل شو او د ۶۳ کلونو په عمر یې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.**

**راځئ، چې ددې سترپیغمبرسترپیغام په سراوسترګو ومنو، غاړه ورته کیږدو، خپل ژوندپرې جوړ کړواوپه دې توګه خپل ارزښت ترلاسه کړو.**

**په پای کې د لوی څښتن تعالی دربار ته لاسونه لپه کوو،چې الله تعالی دې زموږ دمسلمانانو ټول اعمال، تل پر اسلامي ارکانو، تعالیمو او دحضرت محمد (ص) پر لارښوونو برابر لري او د سرور کاینات د بختور میلاد په فضیلت دې زموږ هېواد له هر ډول بلاو او آفتونو وژغوري او د ګران افغانستان ټول ولس ته دې الله تعالی توفیق ورکړي، چې خلکو ته د خدمت له لارې خپل هېواد سمسور اوښیرازه کړي .**

**د میلاد النبي (ص) د نیکمرغه جشن برکت دې تل زموږ ټولو د سر سیوری وي!**

**تربیا دخدای پامان**

**مدیر**

## لوګر کې د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د نېکمرغه میلاد په ویاړ د قرانکریم ختم وشو

د لړم ۸ مه: هغه مراسم چې په همدې تړاو د شهید ارسلا جمال په جومات کې نیول شوی ؤ، پکې د ولایت والي محمد اجمل شاه پور، مرستیال والي الحاج محمد عمر مرجان، امنیه قوماندان مل پاسوال فیض الله غیرت، دیني عالمانو، قومي مشرانو، امنیتي او دفاعي ځواکونو او د دویمې واحدونو مسؤلینو برخه اخیستې وه.



په یادو مراسمو کې د قرآن پاک ختم وشو او د خوږ نبي حضرت محمد مصطفی (ص) او ورستیو شهیدانو روح ته دعا وشوه. ددغو مراسمو په لړ کې مولوي اسدالله حنیف او مولوي رحمت الله د خوږ نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) په ژوند او د هغه پر سیرت هر اړخیزې خبرې او ویناوې وکړې.

د یادونې ده، چې د نړۍ ټول مسلمانان د حضرت محمد مصطفی (ص) د پیدا ینښت ورځ چې د ربیع الاول له ۱۲ مې نېټې سره برابره ده لمانځي او په دغه ورځ د قرآن پاک ختمونه کوي.

## مراسم فاتحه خوانی در لوگر برگزار گردید

**جهت یادبود و دعا خوانی، به روح شهید الیاس داعی خبرنگار رادیو آزادی و شهید یما سیاوش خبرنگار اسبق تلویزیون طلوع در ریاست اطلاعات و فرهنگ ختم قرآن عظیم الشان و اتحاف دعا صورت گرفت.**



**الیاس داعی خبرنگار رادیو آزادی در انفجار ماین مقناطیسی در هفته گذشته در لشکرگاه جان باخت و یما سیاوش خبرنگار و گرداننده برنامه های سیاسی تلویزیون طلوع نیز در هفته گذشته در کابل در رویداد مشابه زندگی اش را ازدست داد.**

**بقیه در صفحه چهارم**

## روند توزیع مساعدت به پنجصد و هفتاد ویک خانواده در لوگر آغازشد

روند توزیع مساعدت پول نقد به پنجصد و هفتاد ویک خانواده متضررین سیلاب های اخیر، به تاریخ 18 عقرب، از سوی محمد اجمل شاه پور والی لوگر آغاز گردید.

مطیع الله احمدزی رییس مبارزه با حوادث طبیعی می گوید که سیلاب های امسال خسارات هنگفت مالی را در لوگر برجا گذاشته است که ۵۷۱ منزل کاملاً تخریب و ۹۸۷ منزل قسماً تخریب گردیده است همچنان صد ها جریب زمین های زراعتی ازبین رفته است.

آقای احمدزی علاوه کرد که در این روند مساعدت، از سوی وزارت مبارزه با حوادث طبیعی به هر خانواده که منازل آنان کاملاً تخریب شده است یک لک و بیست و سه هزار نو صد و چهل و شش افغانی وبه کسانی که منازل آنان قسماً تخریب گردیده، مبلغ ده هزار افغانی توزیع می گردد.




محمد اجمل شاه پور والی لوگر می گوید که در تلاش آن هستند تا به خانواده های نیازمند و متضررین سیلاب ها کمک بیشتر صورت گیرد ،والی لوگر در برنامه که بدین مناسبت در مقام ولایت با حضور داشت مسوولین واعضای خانواده های متضرر سیلاب ها، دایر گردیده بود گفت: در لوگر زیاد تر منازل در سیلاب های اخیر تخریب شده و این مبلغ کمک، روی وضعیت اقتصادی آنان تاثیر مثبت خواهد گذاشت، وی از شفافیت پروسه توزیع کمک خبر داد و گفت که کمک ها به خانواده مستحق می رسد.

والی لوگر از همه مردم خواست که در کنار نظام و دولت استاد شوند تا وطن بسوی صلح، آبادی و انکشاف رود.

ازسوی دیگر خانواده های که این کمک را دریافت کردند ، ضمن اظهار سپاس و قدر دانی، ازدولت می خواهند که کمک های بیشتر به آنان صورت گیرد.

این در حالی است که در ماه گذشته به ششصد خانواده نیازمند بیجا شده گان داخلی نیز پول نقد مساعدت گردید.

## دستار فضیلت بر سر بیست و سه تن از حافظان قرآن عظیم الشان گذاشته شد

برسر بیست و سه تن حافظان قرآن عظیم الشان طی محفل با شکوهی از سوی عالمان دین دستار فضیلت بسته شد و سند فراغت بدست آوردند.

این حافظان قرآن مجید در حضورداشت صد ها تن از عالمان دین، بزرگان قومی و جوانان با فراگیری بیش از یک سال آموزش حفظ قرآن در مدرسه عبدالرحمن بن عوف (رض) در ولایت لوگر به تاریخ 7 عقرب، دستار فضیلت بر سرآنان گذاشته شد.

گفته می شود که ده ها دانش آموز درمدرسه عبدالرحمن بن عوف (رض) از مرکز و ولسوالی های ولایت لوگرمصروف حفظ قرآن کریم وفراگیری علوم دینی میباشند.

در مراسم دستار بندی صدها تن شرکت ورزیده بودند که عالمان دین روی فضیلت کلام الله مجید سخنرانی نمودند.



مدرسه ودار الحفاظ عبدالرحمن بن عوف (رض) در منطقه هونی سیدان مرکز لوگر در سال ۱۳۶۱ تاسیس شده است که دهاتن از دانش آموزان درآن مصروف فراگیری علوم دینی وحفظ قرآن عظیم الشان می باشند ، وتاحال صدها حافظان و علمای کرام را به جامعه تقدیم کرده است، رییس و موسس این مدرسه یکتن از باشنده گان لوگر قاری میرشیر پادشاه می باشد.

## د کاري مرکې هنر تر عنوان لاندې درې ورځنی ورکشاپ پای ته ورسید

د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په ځانګړې نوښت ځوانانو ته د کاري مرکې لارې چارې تر عنوان لاندې درې ورځنی ورکشاپ پیل کړې ؤ، چې دلړم په اومه نیټه پای ته ورسید.



د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل د ورکشاپ ګډونوالو ته وویل چې ځوانان باید هیڅ فرصت له لاسه ورنه کړي او د دندو د ترلاسه کولو په موخه هر ډول لارې چارې زده کړي، ترڅو په آسانۍ توګه دنده پرمخ بیوزي.

**پاتې په دویم مخ کې**

# د اسلام دستر لارښود حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) نیکمرغه میلاد دې ټولو مسلمانانو ته مبارک وي!